انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۷/۱۰/۲۶

# د شهید سردار محمد داود

# او ډاکټر محمد حسن شرق ملګرتیا ته یو ځغلند نظر

## (د ډاکټر شرق د لیکنو له مخې)

### دویمه برخه

تاسو درانه لوستونکی تر ټولو د مخه دی شعار ډوله جملو ته لکه«رسیدن مردم به قدرت سیاسی»، «سیادت اقتصادی»،«برابری و برادری مردم افغانستان» ښه فکر وکړی چې دا په هغه وخت کی د کوم سیاسی نظام او سیاسی مفکوری شعارونه ول او دوی دواړو ته دا الهام له کوم ځایه راغلی دی؟ تردی وروسته دا جمله تعبیر کړی چې ډاکټر صاحب وایی «با فهم اینکه با افشای چنین اقدامی محمد داود متضرر نخواهد شد ولی من و امثال من جان به سلامت نخواهیم برد». ایا دا جمله مونږ داسی نه پوهوی چې محترم شرق صاحب له همدی وخت نه چې د سردار داود خان سره د کوتا کولو تصمیم نیسی په هغه باندی له دی کبله چې د سلطنتی کورنی پوری تړلی دی بی باوره دی او د کودتا د ناکامی په صورت کی به داودخان ته زیان ونه رسیږی خو دی او دده نور ملګری به ژوندی پاتی نه شی؟ د دی ویری سره سره بیا هم شرق صاحب د کودتا له لاری د جمهوری نظام د جوړیدو د پاره د هغه سره ملګری کیږی. دلته سړی داسی پوهیدلی شی چې د کودتا د پاره د شرق صاحب دا منګه د داودخان سره نه، بلکی دا بدلون په حقیقت کی دده غوښتنه ده چې د کلونو کار کولو وروسته یی په داود خان باندی منلی ده او دا هم راته په ګوته کوی چې د دوی د کودتا تر شا کوم داسی لوی توان شته چې د ناکامی په وخت کی به د شرق صاحب او د هغه د ملګرو مرستی ته را ودانګی، او که د دوی پاڅون بریالی شی نو وروسته به د شرق صاحب په مرسته دا بدلون د هماغه ابر قدرت د حمایی لاندی تر نهای هدفه پوری له هره اړخه حمایه شی. ( وروستیو حالاتو وښوله چې هرڅه د شرق صاحب دپلان سره سم پر مخ ولاړل. کلیوال)

زما له نظره ډاکټر صاحب شرق په پورته جملو کی یو بل حقیقت هم مونږ ته را وښای او هغه دا چې: دی ادعا کوی چې کولای شی چې د پاچا او داود تر منځ خپګان له منځه یوسی خو قصداً دا کار نه کوی، نه یوازی داچی دا کار نه کوی بلکی د اختلافاتو په زیاتولو کی ښه فعال دی او هر څومره چې کولی شی د داود او پاچا تر منځ ا ختلافاتو ته

لمنه وهی او د هغوی تر منځ فاصله لا پسی زیاتوی، ترڅو هغه پلان چی د ده سره دی او یا بلی مرجع ورکړی دی په عمل کی پلی شی چی هماغسی وشول.

کله چی په ۱۳۴۹ کال کی د داود خان او شرق صاحب تر منځ د کودتا د کولو پریکړه صورت نیسی نو بیا ډاکټر صاحب شرق مدعی دی چی لومړی داود خان په دی قانع کړیدی چی د اردو لوړرتبه منصبداران او جنرالان چی زیاته برخه یی د محمدداودخان سره ډیر اخلاص هم لری، خو داچی تول پاچا ته وفادار دی نو باید چی د کودتا په کولو کی را شریک نه شی، او پرځای یی باید د هغو ورو او ټیټ رتبه منصدارانو نه چی د مسلکی زده کړو او ملی احساس لرونکی دی ګټه پورته شی. همدارنګه ډاکټر صاحب شرق وای چی دی ورو منصبدارانو ته ، هم دا ډیره سخته وه چی په دی قانع شی او دا ومنی چی د سلطنتی کورنی یو غړی لکه محمد داود دی، د افغانانو په ژوند کی د یوه مثبت بدلون د راوستلو د پاره دی د شاهی نظام د ړنګیدو سره علاقه مند شوی وی. خو که دا کار کوی نو له دی د پاره به یی کوی چی ځان قدرت ته ورسوی. دلته ښاغلی شرق صاحب په ډیره ماهرانه توګه د یوه ښه رمز لیکونکی لیکوال په توګه دا وښای چی: دا واړه منصبداران هم ده په دی قانع کړل چی داود یو ملی شخصیت دی او هیڅکله د ځان د قدرت د پاره دا بدلون نه غواړی بلکی د ملت د ښیګڼی د پاره دا کار کوی. تردی خبرو وروسته ډاکټر صاحب شرق د شاهی ګارد په دننه کی او د څلومی او پنځه لسمی زره دارو قواو، د کوماند او انضباط د قطعو د منصبدارانو سره ( چی ممکن لا پخوا د کومی شبکی له لاری ورته وریپژندل شوی وی. کلیوال)، خصوصاً هغو منصبدارانو سره چی په شوروی اتحاد او یا نورو سوسیالیستی هیوادونو کی یی روزنه لیدلی وه په تماس کی کیږی. ډاکټر صاحب دا هم وایی چی د دی اړیکو بر قرارول د هر بی زړه او ترسو انسان کار نه و، بلکی د زمری په څیر زړه ورته په کارو او هغه زړه د ده په سینه پروت و.

کله چی سړی د ډاکټر صاحب شرق د خولی نه د د کودتا د را بللو د پاره د څلورمی او پنځه لسمی زره لرونکو قوتونو د منصبدارانو د جزبولو کیسه اوری او بیا هغوی ته د وظایفو ورکول، د رهبر سره د هغوی معرفی کول، د دی حلقی نه بهر د نورو منصبدارانو لکه غلام حیدر رسولی سره د اړیکو نیول او هغوی د کودتا د پاره د ځان سره د ملګری کیدو جریان ته ګوری نو داسی ښکاری چی د کودتا اصلی طراح او عملی کونکی محمدداودنه بلکی خپله ډاکټر صاحب شرق دی.

ډاکټر صاحب شرق وای چی داودخان د پغمان په چهل تن کی د غلام حیدر رسولی،محمدسرور نورستانی، محمدیوسف او مولاداد سره د تصادف له مخی لیده کاته وکړه او د کودتا د بری نه د مخه یی په دی هکله خبری وکړی چی د قانون اساسی تر جوړیدو پوری د دولت د رئیس، صدراعظم، د کابینی د غړو او لوړ رتبه مامورینو مقرریدل، د هیواد د اداره کولو طرحه او د دولت د داخلی او خارجی سیاست ټاکل د همدوی وظیفه ده او د مشرتابه د ډلی شمیر باید له لسو یا پنځه لسو تنو نه زیات نه وی، چی دی ډلی ته وروسته د مرکزی کمیټی نو ورکړل شویدی.

دلته چی کوم شی دسړی په ذهن کی پوښتنه پیدا کوی هغه دادی چی څنګه دی اشخاصو په چهل تن کی په« تصادفی» توګه د داودخان سره لیدلی او بیا څنګه په دی تصادفی لیدنه کی د کودتا تر بری د مخه په دومره لویو دولتی موضوعاتو باندی خبری کیږی؟ او بیا څنګه د مشر تابه ډلی ته د مرکزی کمیټی نوم په داسی حال کی چی د مرکزی کمیټی اصطلاح یواځی د چپو سیاسی ګوندونو د مشرتابه ډلی ته استعمالیدله او دوی لا کوم سیاسی ګوند هم نه دی جوړ کړی

کاروی؟ ایا دا د پردیو او بیگانه دولتی تشکیل ډیره بی وخته کاپی نه ده؟ او یا که دوی د بل چا په مرسته هم په خپل بری مطمئن دی او هم بی له کوم مرام څخه لا د مخه د یوه سیاسی گوند په توگه پیژندل شویدی؟

ډاکټر صاحب شرق د دی گډو وډو لیکنو نه وروسته په تاسف سره وای : « ایکاش بعد از تاسیس جمهوریت هم این فیصله در نظر گرفته میشد تا از بسیاری بدبختی ها وارده در افغانستان جلو گری میگردید.» د ډاکټر صاحب د دی تاسف نه سړی داسی پوهیږی چی دی څومره پښیمانه دی چی د داسی یو چا سره یی د دوستی لاس ورکړی، هغه یی د خپل رهبر په توگه منلی او هغه یی د جمهوری دولت مشر جوړ کړیدی چی وروسته دده او دده د ډلی سره ټولی ژمنی د پښو لاندی کړی او هغه یی د سیاسی صحنی نه و ویستل، بی واکه یی کړل او وطن یی د سترو بد بختیو سره چی لا هم ادامه لری مخامخ کړ.

دلته په حقیقت کی ډاکټر صاحب د دی ارمان تر څنگ دا هم په ډاگه کوی چی په افغانستان کی د ټولو بدبختیو د را منځ ته کیدو عامل د دوی د مشر محمد داود غرور، خودخواهی او خپل سری گڼی. هغه په واضح توگه وایی چی داود په خپلو ملگرو خصوصاً په ده یعنی شرق باندی د کودتا دبری نه وروسته بی باوره دی. ولولی د ښاغلی شرق صاحب دا جملی، په ویبسایت کی د نشر شوی کتاب د دریمی برخی په اتم مخکی کی: « با انتخاب محمدداود به حیث رئیس دولت (ازجانب کمیت مرکزی جمهوریت) و نویسنده(شرق) به صفت منشی کمیته مرکزی قبل از تشکیل کابینه آوازه په دروازه افتاد که کودتا سفید و آرام افغانستان شبیه کودتای مصر است که در بطن خویش تعویض نفر اول را به دوم نهفته دارد (مانند جنرال نجیب و جما ناصر)» او بیا لیکی چی همدا آوازی د دی سبب شوی چی : «... رئیس دولت جهت جلوگری از اتفاقات نا خواسته صلاحیت رفقای خویشرا در اداره کشور محدود نماید». شرق صاحب وای: هغه (داود) زه د کابینی په جوړولو مؤظف کړم خو راته ویی ویل: « عجالتاً وظیفه صدارت، وزارت دفاع ملی و وزارت خارجه را به عهده من بگذارید»

جناب ډاکټر صاحب شرق دلته په ډیر زیرکانه توگه محمدداود د ځینو بهانو او مشابهتونو په یادولو سره په غیر مستقیم ډول په یکه تازی، خودخواهی او په خپلو ملگرو خصوصاً ډاکټر شرق باندی په بی باوری متهموی او همدا بی باوری د دی باعث گڼی چی محمدداود د دولت ټول مهم او کلیدی پوستونه په خپل لاس کی نیسی. د هغه همدا د د قدرت د انحصار اقدام د ځان د ناخوښئ او د مرکزی کمیټی د غړو تر منځ د بی باوری د را منځ ته کیدو بنیاد بولی او پړه یی په داودخان ور اچوی، ځکه چی که داودخان دجمهوررئیس وظیفه تر لاسه کوی نو صدارت خو بیا بی له کومی پوښتنی باید شرق ته ورکړ شوی وای چی ورنه کړل شو، او دا د کمیټی مرکزی فیصله نه بلکی د شخص داودخان پریکړه گڼی.

تردی وروسته ډاکټر شرق صاحب د داود خان له خوا د لوی درستیز په توگه د جنرال مستغنی تقرر او د سیاسی معین په توگه د سید وحید عبدالله گمارل د داود خان یو بل خپل سری کار گڼی، خو بیا هم د خپلو ملگرو او د مرکزی کمیټی له خوا په حوصله مندی سره هغه هم قبلوی، دی وایی «.. که نمایانگر عدم رضایت کمیته مرکزی بود، تصویب نمود»، هغه وای مرکزی کمیته ورسره ځکه مخالفه وه چی هغوی نه یوائی داچی په کودتا کی گډون نه درلود بلکی دی دواړو څیرو« به نسبت وابسته بودن به نظام سلطنتی، به جمهوری خواهان هم نظر مساعد نداشتند»

ډاکټر صاحب شرق وروسته بیا په ډیر مهارت سره د ملکی، د سلطنت د ولیعهد او د هغه کورنی ته د محمدداود له خوا په خپل سر د هیواد نه د وتلو د اجازی ورکولو کیسه کوی او وای چی د همدی دوه تنو له تقرر نه ډیره لږه موده وروسته «..... اگر فراموش نه کرده باشم یکی دوروز بعد از تقرر این دونفر بود که به ملکه و ولیعهد، با دختران و فرزندان شان ازجانب رئیس دولت بدون تماس با کمیته مرکزی اجازه داده شد به ایتالیا رفته با شاه مخلوع زندگی کند»

درنو لوستونکو! دا پورته جمله له خپله انده تعبیر کړی چی ایا ډاکټر صاحب شرق د خپل رهبر، ددولت د مشر او جمهوررئیس محمدداود سره په راستی او که په ټگی کی روان دی، په درنه سترگه ورته گوری او که د غرور او خودخواهی او حتی د ناپوهی ټاپی پری لگوی؟ قضاوت په تاسو اړه لری.

**د دویمه برخه پای**

**دوام لری**